

# د ژمي په دې فصل کې


## دلته ذکر شوي دي چې څه ډول خپلې پايلې ولولئ

**مثبتې پايلې**، لکه څرنګه چې په لاندې بیلګو کې ذکر شوي دي، کیدای شي مثبتې پايلې په تېز او یا کم رنګ کې څرګندې شي. د آزمیینت له ګلابي څخه تر سرې کرښې پورې **هر** سیوری، یوه مثبته پایله څرګندوي.








**منفي پايلې** یوازې د کنټرول یوه کرښه څرګندوي.




د پیکسلوویډ (Paxlovid) په څير د COVID-19 خوراکي درمل بايد د نښو نښانو له څرګندیدو وروسته د 5 ورځو په لړ کې پیل شي. اړینه ده چې د نښو نښانو له څرګندیدو سره سم هر څومره ژر چې کیدای شي آزمیینت ترسره کړئ. **ځینې وخت کیدای شي په کوویډ د مبتلا والي په صورت کې هم ستاسو د انتي جن د آزمیښتونو پایله منفي وي**، له دې امله ډاډ ترلاسه کړئ چې له ګوښي کېدو وروسته د 24 څخه د 48 ساعتونو په لړ کې بیا آزمیینت ترسره کړئ.

هغه خلک چې عمر يې له 50 څخه زيات وي **يا** ځانګړې روغتیايي حالت ولري او **يا** د *COVID* د واکسین کولو په اړه اپډیټ معلومات نه لري، د انتي جن د آزمیښت د منفي کېدو په صورت کې باید د *PCR* آزمیښت په نظر کې ونيسي. زیات احتمال لري چې د *PCR* آزمیښتونه عفونت ژر تشخیص کړي، له دې امله تاسو به وکولای شئ ژر پوه شئ چې پایله مو مثبته ده او درملنه ترسره کړئ.




**نامعتبرې پايلې** هغه وخت رامنځته کیږي چې د کنټرول کرښه او یا په ټوله کې هیڅ کرښې نه وي.
په دې معنی چې تاسو باید بل آزمیینت ترسره کړئ.